۱۳۴۰
۳
6/1961

کندهار

داستقلال خلی

جوزا ۱۳۴۰

اعلیحضرت محمد نادر شاه شهید استقلال محصل

زموږ محبوب تو لواك اعلیحضرت محمد ظاهر شاه
د استقلال ساتندوی

دجوزا شپږمه

درو ځلو یښت کاله د مخه پر شپږمه دجوزا زموږ سیاسی استقلال دیوه امپریالست دولت له خوا ومنل شو ، استقلال زموږ د تیرو پلرو او نیکه گانو د توری په زور اودوینو په بدل کښی په لاس راغلی دی پدې ځای کښی هر وطن پرسته افغان مجبوردی چه د استقلال د لاری د شهیدانو په روح زرگونه سلامونه د تحفی په ډول ولیږی په زیاته بیا د استقلال دلاری د حقیقی قهرمان محمد نادرشاه شهید سعید وپاك روح ته د زړه له کومی درودونه تقدیم کړی لیکن اوسنی نسل ته په کار ده چه هر کال د استقلال دورځی د تلین په مناسبت د خپل ځان سره غورو کړی چه موږ په دې درو ځلو یښت کاله کښی د استقلال د ساتنی او حقیقی بقا د پاره څومره کار کړی دی ملی آزادی خو د ملتونو د افرادو طبیعی او مشروع حق دی اما د دی رواحق په مخی کښی افراد درنی وظیفی هم لری . کله چه د او ظیفی

(نور د پشتی په دریم مخ کښی و گوری)

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 MAR 2005

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی، تاریخی، اجتماعی، علمی

مسئول چلوونکی:- ا، م «کرزی»

اداره دهرات دروازه «ددولتی مطبعې څنګ ته»

بیه :- په کندهار کښې [۲۸] افغانۍ
په دننه مملکت کښې [۳۲] «
په دباندنیو مملکتو کښې [بوډالر]

د لمرنی ۱۳۴۰ کال د جوزا [۱]
د میلادی ۱۹۶۱ کال د می «۲۲»

د دوهم کال دریمه گڼه
پرله پسی ۱۵ «

د کندهار د مجلې

د مضامینو فهرست

عنوان	لیکونکی	مخ
ادب باید د اجتماعی ...	ښاغلی «کرزی»	۱
مؤرخ او وقایع نګار	د « «بخرکی» ترجمه	۳
رارسیدلی لیک	« «ویران»	۷
اشعار	« «بریالی»	۸
د کندهار یادونه او	د « «هارونی» ټولونه	۹
مرحوم مولانا ابوالکلام آزاد	« «نجیب»	۱۱
د سقراط وصیتونه	(.)	۱۳
نتاشه	د پیغلی عزیزه «رشاد» ترجمه	۱٤
د کوډ تیمور انتقام اخستل	د ښاغلی «انوار» ترجمه	۱٦
لښکر ګاه	د « «آشنا» رالیږلې	۱۹
د لیکنې قانون	مولانا محمدشریف «حبیبی»	۲۱
د تیری میاشتې غټ خبرونه		۲۹

ادب باید د اجتماعی ژوند

تصویر وی

داچه د ژوندانه په ټولو شئونو کښې ښکاره تحولونه او څرګند تغییرات راغلی دی علت ئې دادی چه بشری ذهنیت بدل شوی او دافکارو مجری الیشه سوی ده. څرنګه چه ټول علمی او مدنی نهضتونه د انسانی دماغ محصول دی او دماغونه تل د تجدد، تحول، او انکشاف خوانه مایل دی، نو باید په اجتماعی لارو ادبي او ذوقی حالاتو کښې هم بدلون راشي. انسان خو په لوی سر کښې پر تجدد او تحول زړه بایللی دی تکرار او زاړه شیونه ئې زړه توروی او تل په دی هڅه وی چه نوی مضمون ایجاد او نوې لر به سازه کړی.

د نړیوالو په دماغونو کښې خو څو پیړۍ دمخه تحول او انکشاف راغلی دی چه دغه دی نن ورځ د خپلو علمی اختراعاتو په برکت غواړی د آسمان وستورو ته وخیژی. د تاریخ په شاهدی سره د دوی دغه فکری او دماغی تحولونه لومړی د دوی په ادبی او هنری نښو کښې ښکاره شو یدی د اروپا د تاریخی مطالعاتو څخه داموږ ته څرګنده ده چه د فرانسی داتلسمی پیړۍ د لوی نهضت څخه وروسته څه ډول د رومانتیک ښوونځی پیدا شو او دې نوې مکتب څرنګه کلاسیکی سبک له منځه یووړ. نو اوس موږ ته هم لازمه ده تر هغه ځایه پوری چه زموږ اجتماعی ژوند او ملی شعائر ئې د زغمو لو حوصله لری په ځینو هنری او ادبی چارو کښې څه بدلون او تجدد راولو.

که موږ د ادب داسی تعریف وکړو چه د انسان د باطنی خواهشاتو او تاثراتو مجموعه ده نو دا به د اوسنی ادب د پیژندګلوۍ د پاره پوره مثال نه وی او که ادب د انسانی ژوند د مظاهرو او اجتماعی حالاتو تصویر شی نو دا به ولسی ادب ربولو څرنګه چه ادب د پاره د ادب په بشری ټولنو کښې مصداق نه دی پیدا کړی او تل د اجتماعی قدرتونو له خوا ادب استعمال شوی دی نو ځکه اوسنی نقادان هغه ته د اهمیت په سترګه نه ګوری او غندی ئې او که چیری ادب د قدرت د خاوندانو د خوښۍ یا د دوی د ښکلو مانیو او باغونو یا د دوی د پۍ مخو ستاینه وی نو ښائي دې به د فئو ډالیزم په زمانه کښې طرفداران درلو دل اما نن ورځ هغه زړه متاع رانیونکی نلری ادب چه د تاریخ په سیر کښې بېلی بېلی دوری لکه قبیلوی ادب، درباری ادب عشقی او د میـن تا به ادب تیری کړی او څرنګه چه دغه ټول ادبی مسلکونه د زړی زمانی د ژوندانه. دودونو، او فکرونو ترجمانی کوی ځکه

ئې په اوسنی دنیا کښې چه
دترقی او تجدد زمانه ده خپل
قیمت بایللی دی. حتی دتصور
او تخیل منابع او اساسونه ئې
بیخی له مینځه تللی او نا بود
شویدی په نننی عصر او
ژوندانه کښې موږ نسو کولای
چه تیری سوی ادبی خاطری
راژوندی کړو او د هغه
مواد څخه چه ارغونو دادب
د مانۍ دجوړولو دپاره په
کار وړل موږ هم استفاده
ځنې وکړو. ځکه اوس
دژوند ټول اړخونه بدل
شوی او دتصور او تخیل مجری
هم سره اوښتی ده دمثال په
ډول که اوس یو شاعر
راولاړ یږی په داسی حال کی
چه کوم گران اشنا ئې د
الوتکی په ذریعه مسافرت ته
ځی اودی د الوتکو په ډگر
کښې دخپل اشنای د خدای
په امانۍ دپاره ولاړ وی او
دالوتنی په حالت کښې دا
شعر ووائې: چه

ای ساربان آهسته رو کارام جانم میرود
آن دل که با خود داشتم با کاروانم میرود

څو نی به د خندا وړ
خبره وی ځکه نه سار وان
دلته موجودیت لری او نه
کاروان داوښ پرځای گړندی
الوتکه ده او د سار وان
پرځای یو مفشن طیاره وان
څرنگه چه هرادب دخپل عصر
دایجاباتو او داجتماعی ژوند
دچار پیر محصول دی او لکه
چه موږ په اوسنی عصر کښې د
توری په وسله سره دجنگ
ومیدان ته نه سو تلای دغه رنگ
زوړ ادب هم زموږ ذوقی
اړتیاوی نه سی پوره کولای.
او موږ په اوسنی عصر کښې
یوه داسی ادب ته ضروت لرو
چه هغه زموږ داجتماعی ژوند
او ولسی حیات ترجمان او
ښکارندوی وی یا په بل عبارت
باید زموږ داجتماعی ژوند داسی
پوره هیندا ره وی چه په هغه
کښې موږ ټول خپل ځانونه
او خپل اخلاق او دژوند څرنگوالی
ووینو او خپلی حقیقی بڼی
وپیژنو او داوسنی مترقی ژوند
له مظاهرو څخه الهام واخلو.

ددې پرځای چه دخیال
مرغه د آسمان په ستورو کښې
الوزو یا دسپږمۍ سره دزړه
خواله کوو ښه به داوی چه د
دخپل ولس په زړه کښې ورننوزو
او دیوه گړی دپاره هغه دنیا
هم ووینو کوم چه تل زموږ
له ستر گو نهامه پاته شویدی بیا نو
دژوندانه نابلوی تصویر کړو
یعنی له اسمانه څخه باید
مځکی ته راسو او دتصور له
فضا څخه باید دواقعیت وغولی
ته را شیوه سو، چه هم ادب
په اوسنی تعریف سره خپل
مصداق پیدا کړی او هم به
موږ په اوسنی عصر کښې
خپله وظیفه پرځای کړی وی که
چیری زموږ جوان فکره ادیبان
او د قلم خاوندان دا کار
وکړای شی نو دا به ددوی غټ
بریا لیتوب او ددې جامعې
لو یه نیکمرغی وی.

«ا، م، کرزی»

دښاغلی محمد علم « بڅرکی » ترجمه

مورخ او وقایع نگار

دډیرو پیړیو راهیسی مورخان او فیلسوفان به دې بحث بوخت دی . چه معلومه کی د تاریخ وظیفی څه دی ؟

لکه څرنګه چه موږ دمخه ویلی دی . ترڅو چه د تاریخ صحیح تعریف ونه سی دا جګړه به دوام پیدا کی .

هر مورخ واقعات پرخپل ډول وړاندی کوی یو مورخ تاریخ لیکی ، خو هغه بل مورخ کورټ دهغه د تاریخ څخه د تاریخ له حیثه انکار کوی کله چه کرم مورخ د کومی زمانی حالات دا ډول ولیکی چه دهغه څخه معلومه سی چه دهغې زمانی خلکو څرنګه ژوندون تیراوه ددوی دچپنو اوږد والی څونی ؤ دوی په څنګه ځایو کی او سیدل ، هغوی ښارونه آبادول او کله به ئې ښارونه ورانول . کله به دهغوی بادشاهانو کتابونه لیکل او کله به ئې کتابونه سوځول دا رنګه مورخ ته موږ وقایع نګار وایو زموږ لومړنی مورخان دغه رنګه وقایع نګاران ؤ سره ددی چه د تاریخ متعلق نوی نظر ئې قایمې سوی دی خو دهغه وقایع نګارانو د کتابو دښه والی څخه انکار نه سوای کیدای ځکه چه زموږ د استفادی مور دهغه کتابونه سوی دی ، که څه هم دوی ددی دواقعاتو داسبابو او نتیجو سره اړه نه درلوده او ځانونه به ئې بیغرضه تراشل او دخبر رسونکو په شان به ئې وظیفه ادا کوله واقعات به څرنګه چه پیش سول هغه رنګه به ئې ولیکل داوقایع نګارانو به دواقعاتو په اسبابو پسی پلټنی نه کولی په تاریخ او وقایع نګاری کښی دا فرق موجود دی چه وقائع نګار همیشه دواقعاتو داسبابو څخه غافل وی ، لیکن مورخ نه یواځی دمخصوصی زمانی د حوادثو اسباب وړاندی کوی بلکه دانسانانو تاریخ یو مسلسل عمل بولی مورخ ته علاوه پردی چه دواقعاتو اسباب ور معلوم وی داهم ورته ښکاره ده چه بشر څرنګه ترقی او پر کومه لار تنزل کوی .

تاریخ موږ ته دا راښئیی ، چه په کومه خاصه حادثه او واقعه دنیا د ترقی وخوانه ځی او کومه واقعه انسانان و کښتی ته بوتله .

دوقایع نګار دا کار دی ، چه دی د ۱۹۳۹ کال د جنګ په باره کی موږ ته د بری او شکست حال راکی ، او د هغه جرنیلان حال راکی چه پدغه جنګ کی جنګیدلی دی وقائع نګار موږ ته د لویو لویو لارښوونکو وینا وی پیله کوم تنقید څخه موږ ته رار سوی لیکن بر خلاف ددی مورخان د جنګ اسباب او دهغه اثرات چه پر اجتماع باندی لویږی بیانوی ومورخ ته دا ضروری خبره نه ده چه دی وقایع نګار هم وی ، مګر د وقایع نګار د کتابو په پر ته دی تاریخ هم نسوای لیکلای .

هغه علوم چه د تاریخ سره اړه لري :

لکه څرنګه چه تاریخ د عمراني علومو یو ښاخ دی ، ځکه لازمه ده چه د نورو ښاخو سره هم تعلق ولري ، د تاریخ علم تر ټولو زیات د سیاسیاتو سره اړه لري ، د سیاسیاتو څخه زما مطلب صرف د حکومت یا لیسي او د حکومت طرز جنګ کول او د حکومت نظم ساتل ندی بلکه د اجتماعي ټولنو ډیري اداري تر دغه عنوان لاندی راځي .

په موجوده وخت کی د تاریخ ډیر تعلق د معاشیاتو سره دی ، دې تعلق چه کوم نوی تاثیر د تاریخ پر وجود کړی دی هغه به په آخر نیو پاڼو کښی ولولی د مورخینو خیال دی چه په اجتماعي اوړتیا کښی معاشیات ډیره مهمه برخه آخیستی ده ، نن ورځ د انسانانو په مخ کښی د ژوند مسائل وړاندی سوی دی مورخان یعنی هغه کسان چه تاریخ لیکی د دغو مسائلو له مخی د نورو معاملو مطالعه کوی ، دغه سبب دی چه نن ورځ معاشی تاریخ تر جنګی ، سیاسی ، او نورو تاریخو ډیر اهمیت حاصل کړی دی .

په تاریخ لیکولو او جغرافیه کښی هم اوس بیخی نژدی والی لیدل کیږی . ښائي چه پدی تعلق دی تر ټولو د مخه د عربو عالمانو پوهیدلی وی ، ډیرو عربو مورخانو داسی کتابونه لیکلی دی چه هغه ته موږ تاریخی جغرافیه یا جغرافیائي تاریخ ویلای سو ، د عربو عالمان څرنګه چه جغرافیه په عمرانانو کښی شاملوي ځکه نو جغرافیه یواځی د مځکی علم نه سو پاته بلکه یو انساني علم ځنی جوړ سو ، یعنی زمان و مکان دواړه په جغرافیه اړه پیدا کړه .

د تاریخی جغرافیه لوستونکی پدی کوشش لګیا دی چه د انسانو د اجتماعي ادارو تأثیرات د آب و هوا څخه دی . یعنی دوی دا کوشش کوی چه دا ثابته کی چه د انسانانو اجتماعي خوی وخاصیت جغرافیائي آب و هوا ورتا کی . دا یو ډیر د حیرت وړ کوشش دی ، چه تر اوسه پر دی موضوع کوم ښکاره تنقید نه دی شروع سوی ځکه دوی ته دا حق ور حاصل دی چه دوی د لرغونی ملکو خدایان هغو ملکو د جغرافیائي چار پیر تخلیق بولی او یا دغه رنګه په نورو چټیاتو لګیا او اوسی مګر سره له دی تاریخ د محیط د تأثیر څخه وتلای هم نه سوای .

سوانح نګاری :

لکه وقائع نګاری سوانح نګاری هم په تاریخ خطا کیږی . سوانح لیکونکی د یو مخصوص وخت تاریخ دهغه وخت ترغښتلو او هوښیارانو پوری محدودوی د کارلائل «انقلاب فرانس» د سوانح نګاری ډیر ښه مثال دی ددی ډول تاریخ په حمایت کښی چه هغه د سوانح نګاری پر طرز لیکل سوی وی ول ډیورنت په خپل نامتو کتاب کښی چه نوم ئې «د مشاهیرو ادب» دی لیکلی دی .

په ځوانی کښی کو مو تصورانو چه ژوندون نه رنګ او خوند ور کړی او د هغو څخه یو تصور په داسې ډیر توب هم راسره موجود دی ، او هغه عبارت دی دغښتلو کسانو ډیر ګرانښت او یا شرمناك ګرانښت په یوه داسی زمانه کښی چه توله شیان سره سپمیږی ، او هیڅوك دهیچا احترام نه کوی زه د کارلائل سره سم د هیڅم او ځم دافلاطون د بت ومخ نا خپل څراغ بلوم . د شرمناك نوری می یدي سبب استعمال کی چه نن داخبره دخاطر داری خلاف ده چه زه په تاریخ او یا په سوانح کښی ترلحان لوړ شخصیت ومنم زموږ د ډیموکراسی دعوه نه یوا ځی رای ورکونکی بلکه لیدران ئې هم سره مساوی کړه . زه داخبره پـه ډیره خوشحالی ښکاره کوم چه زموږ دعصر هوښیاران او پوهان د معمولی قابلیتو انسانان دی.

په موږ کی ډیر کسان دا غواړی چه دیخوا ناوړه پرستش اوستاینې له منځه یوسی ځکه چه دوی بیربیزی چه چیری هغه زاره خدایان بیا رانسی او موږ ترتاثیر لاندی راوړلی .

داخوئی طبیعی خبره ده چه موږ دهغو کسانو احترام وکو کوم نه چه قوم پـه احترام کوری مګر بر خلاف ددی موږ و سپوږ می اوستورو نه د حیرت په ستر ګه کوروا او احترام ئې کووحال داچه د طبیعت لوه معجزه خپله بشر یعنی انسان دی موږ باید بخپله د انسان لمانځنه وکوو او دغه کسان دتاریخ روح دی د غه کسان دی چه سیاست اوی اوی فا بریکی ورته هیڅ ښکاره کیږی .

دانسانانو صحیح تاریخ د شیانو قیمتونه ، انتخابات او دجنګو تاریخ نه دی او نه تاریخ دعوامو خلګو په روش کښی پټ دی .

دانسانانو تاریخ عبارت دی دهوښیارانو څخه دفرانسی تاریخ دفرانسویانو تاریخ ندی یعنی د هغو فرانسویانو چه بزګران دی ، یاموچنی ګنډی اودغه رنګه نور ، ځکه د غه رنګه انسانان په هرمملکت کښی موجودوی نو ځکه زه داجرئت کوم چه ووایم چه د فرانسی تاریخ یو یادداشت دی دذهنو اوهوښیارانو کسانو د ښو کارنامو ، د هغو کاشفانو ساینسدانانو ، مـد برانو ، شاعرانو ارتسټانو او نورو چه زمانه ئې جوړه کړیده .

اوهم دغه رنګه وضعیت په توله نړی کښی دی .

دفرانسی تاریخ دهغه مملکت دلویو انسانانو تاریخ دی ،

دغه وجه ، چه زه تاریخ د سیاست او چور وچپاول وچه منظره نه بولم، بلکه د هر بشپړ انو بو کشمکش ئې بولم .

چه مقصد د هغه انسان او دنیا پیژندل دی. پرهغه باندی قابور او ستل او بیرته دوباره تعمیرول دی .

که دلوستونکی په ذهن کښې تراوسه پوری د تاریخ او وقائع نګاری فرق موجود وی او دی د یورتنی شکایت څخه دپاکتر د یورنټ ترتأثیر لاندی نوی نوهغه په ډیره اسانی سره پوهیدلی سی چه سوانح نګاری او تاریخ څه فرق لری ، دلویو انسانانو د کارنامو څخه څوك انکار کولای سی ؟ سوانح نګاران دالوی انسانان بیخی مافوق البشر ستائي حالانکه مؤرخان د لویو انسانانو د کارنامو پر اساس بو او تائجو باندی بحث کوی سوانح نګار کوښښ کوی چه خپل غښتلی «هیرو» د یوه مخصوص عهد غښتلي وبولی پرهره زمانه او د هری زمانی د پاره ئې موزون ستائي سقراط د خپلی زمانی یو باغی اوده دا بغاوت خلکو دانن د محلمیانو د پاره خطرناك وباله دی مجبور سو چه د خپلی دی عقیدی په سبب د زهرو پیاله نوش کړي . لیکن باوجود ددی سقراط (د پنځمی پیړی د مخه ترمیلاد) دا نن پیداشوی انسان ؤده ژوندون دده عقاید او مقاصد دا نن د سیاسی او معاشی نظم څخه پیدا شوی وو دی په حیث د یوه یونانی ژوندی ؤاو هم یونانی مرسوده هر څه ژوندون چاوکی داژوندون ده نه دروم پسه سیزرا نو کی نه سوای پیدا کیدای .

که دی په موجوده یورپ کی پیدا سوی وای ښائي چه په کوم اخبار کی به دده خبر نه سوی وای او په دونی اهمیت به نه وای ورته قایل سوی د سقراط د نابغه والی څخه انکار نسوای کیدای مګر دا نبوغ د پنځمی پیړی قبل مسیح نبوغ دی اوده ته مرزد د هغه وخت نابغه ویلای سو په ساده توګه سره تاریخ د بشر د ماضی قصه ده یو څوك را ولاړ یږی د بشر د ماضی مطالعه د یوه فرد په حیث کوی. که څه هم دا موضوع د ډیره لویه او مهمه ده مګر زه ودی ته تاریخ نسوای ویلای دا موضوع د حیاتیاتو سره اړه لری .

د ډیر کسان چه په هغو کښې بعضی مشهوره مورخان هم شامل دی ، دانسان د ماضی په مطالعه کښې صرف پر بعضو اشخاصو باندی خپله توجه کوی د دوی په خیال د یونان تاریخ عبارت دی د هر کلز د تقریرو ، د سقراط د ژوندون او د اسکندر د خوشحاله طبیعت څخه دوی د هر ملك تاریخ په لویانو او غټانو کښې پلټی . د هغوی په نزد دا انقلاب فرانس تاریخ به پادشاه ، ملکه میرابیو لافی رابس د ئیری ، مارا د ښتن او په نپولین کښې مود وی زه دا قسم مورخان ، مورخان نه بولم دا سوانح نګاران یا د روحیاتو پوهان دی دا رقم خلک چه کوم وخت تاریخ لیکی دوی په نظر کښې د انسانانو اجتماعی خواوی نلری.

«نوریه ۸ مخ کښې»

رارسیـــــدلی

لیـك

ښاغلی «کرزی» د کندهار د مجلی چلوونکی!

د مطبوعاتو سره د (۱۸)، (۱۹) کالو اشنائي او په زیاته بیا (۱٤) کاله ملګری ودې حدته رارسولی یم چه د مطبوعاتو او مورنۍ ژبی ډیر لږ پر مخ تګ می خورا ډیر خوشاله کوی د کندهار د مجلی په راوتلو او تاسیس چه څوك خوښ شوی وی لدغی ډلی څخه به دریم یا څلرم سړی زه یم.

دا مجله می دلومړی ګڼی څخه بیا تر اوسه په غور کتلی ده د مجلې د مسلك سره ئې خپرونی برابری او په زړه پوری دی.

یوشی چه زه ئې د مملکت په نورو خپرونو کښی کورټ نه وینم او شخصاً دلته ستا په لیکونو کښی لیدل کیږی هغه د موصولی ضمیر کلیمه یعنی (چه) دی چه ستا په نویشتو کی ئې په (چی) سره لولم.

پدې کلیمه دی لیکنی هر ګوره ښایسته وی ښه تکی تادی فکر سوی دی، زه دی هم پر خوا یم چه (چه) په (چی) سره ولیکل شی او نه پوهیږم چه څله تر اوسه د (چه) کلیمه په (ه) منل شویده په داسی حال کی چه په ځینو پخوانیو لیکنو کی هم (چی) په (ی) وی مثلاً قریب (۷۰۰) کاله د مخه د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیا په قلمی نسخه کی هر ځای د (چه) پر ځای (چی) راوړل شوی دی او پرته له دې د (چه) په تلفظ کی تر (ه) د (ی) توری پوره ادا کیږی. زما چه فکر په رسیږی تر (چه) ئی د (چی) صورت معقول ګڼم.

نو د پښتو ټولنی د محترم ریاست او معاصرو لیکوالو توجه ودې خوا ته غواړم چه آینده (چه) متروك او (چی) چه صحیح تلفظ په کیږی په ګډه ومنی چه دا تائید به د مورنۍ ژبی په حقله یو ادبی خدمت هم وی.

محمد یوسف (ویران)

(دښاغلی «بریالی» له اشعار وڅخه)

میخانهٔ :-

که په خوندسی څوك خبر د میخانی
ځان به خاك کړی پر گذر د میخانی
په سره اور کی به خلیل رنگه خوشنودسی
وی تا تو بی به ئې ور د میخانې
په هیڅ دم ؤ په افسون به مغلوب نشی
څوك چه دم وی په منتر د میخانې
تر زاهد سل کلنی ډیر بهترین دی
مستانه ؤ قلندر د میخانې
افلاکونه به له تاوه څه اور واخلی
که آه کش کړی منجور د میخانې
ظاهر بین په اعتقاد ملامت نه وی
نا خبر دی په اثر د میخانې
په یوه غوړپ چه ئې مړی ژوندی کیږی
ها تا زه شراب ثمر د میخانې
عزرائیله سر گردان وریسی مشه
«بریالی» پروت پر بستر د میخانې

چټی ستر گی :-

چه تش تیر شمه پر څنگ د چټو ستر گو
تور فرنگ شمه په رنگ د چټو ستر گو
وبازار ته سر بهر ایستلای نه شم
کوزؤ پاس اوری خدنگ د چټو ستر گو
د ساغر شراب ناوړ را معلومیږی
چه نشه شومه په بنگ د چټو ستر گو
په توبه می هیڅ پر هیز ور څخه نه سی
زه بی ننگه کړمه ننگ د چټو ستر گو
په بازو کښی می امکان د فتحی نشته
تښتولی یم زه جنگ د چټو ستر گو
د ځگر پر آینه می لا زیا تیږی
د تقوا پر صیقل زنگ د چټو ستر گو
زړه ښیښه د «بریالی» له لاسه ولاړه
ریز مریز شوه پر خرنگ د چټو ستر گو

بلکه ددوی دلچسپی دانسان دشخصی کوائفو څخه وی دوی دانسان دذهن هغه ډرامه وخلگو ته وروړاندی کوی ، چه په هغه کښی پاچا ، ملکه ، جنگ ، اودانقلاب مناظر وجودولری .

داکسان چه کومه تاریخی دوره او یاد کوم قوم تاریخ لیکی . نوظاهراً ددوی موضوع دانسان دماضی سره په اجتماعی صورت اړه لری یعنی موضوع ددوی دانسان دماضی اجتماعی خوا ده ، مگر باوجود ددی دوی دلته هم دهغې دوری پر افرادو باندی بحث کوی ،

دا رقم سوانح نگاران او پوهان د نفسیاتو ډیر زورور آرتسټان دی .

خلگ به ددوی ودې کسب او پیشی ته ډیر قدر ور کوی . مگر موږ ددوی وموضوع ته تاریخ نسوای ویلای .

«نور بیا»

وادب گلونه

د کندهار

تولوونکی (هارونی)

یادونه او ستاینه دپخوانیو او اوسنیو شاعرانو له خوا

پښتو برخه :-

که پاخه دی کندهار انار پاخه دی
اسلم خان بابادی خوری پرماترخه دی
«فتح خان»

درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره یو د جنګ په کار پټ او آشکار
«خوشحال خان»

بخارا او سمرقند می زړه زخمی کړ
غواړم پاڅم په زیارت د کندهار

❀ ❀ ❀

زه رحیم په بخارا کی آرزو کړم
که می خدای کړی پر بلاد د کندهار ګډ
«عبدالرحیم هوتک»

هندوستان مکتب زما دی
کشمیر هم مطاب زما دی

کندهار د ګلو هار دی
هرات خوږ نسب ځما دی
«خواجه رزق الله»

چه شاړه دی غمازانو له وطنه
نعیم ځکه کندهار او کابل و نیو
«میانعیم متی زی»

چه تا نه وینم هغه زمان د لبره !
راته اورشی پشت رود او کندهار کل
نن می بیا په نیت نیولی کندهار دی
له هراته می خراب زړه تار پتار دی
«شیر محمد دهلمند»

تو کل ته دعاو کړه فقیرانو
زغ ئې تللی تر کشمیر او کندهار دی
«توکل دښیوری»

دحنان قراری څه غواړی د لبره !
چه رسوا کړ داستا عشق په کندهار کی
«میرزا حنان»

نن خپل زړه را ته ریل کندهار پریږده
دخزان له ظلم ؤ جوره گلزار پریږده
«شمس الدین کاکړ»

نه به وی نه به پیداسی کندهار غوندی ولات
اوس ارمان می دی یارانو هیر بې نکړم په حیات
«خدایداد جدید»

د کندهار شاعران به سی راجمع برمیدان
شاعر موسوم په عبدالله تر تولو کم به راسی
«د سپین بولدك عبدالله»

ملیاران کړی هسی ډیر په پښتو نخوا کی
په پکتیا په کندهار په ننگرهار کی
«مجاور احمدزیار»

پېښاور کی زښتهٔ ډیر ښه ادیبان دی
کندهار کی بلبلان پر گل کړیږی
«خیرالدین»

چه سرسبزی بوری تړلی ده دذې ولایت
ښه خوندور دی ارغنداو د کندهاره سره

❀ ❀ ❀

ښه نازك شندان ئې گوره اناری دی
نه به وی داسی انار په کندهار کی

❀ ❀ ❀

شیرین طبع په تلوار ورته را درو می
چه د (قند) (اهار) ئې ور کی قندهار ته
«محمد یوسف ویران»

عبدالنبی لیدلی هندوستان واړه ښارونه
که زر کشمیره را کی کندهار نه بدلوم
«عبدالنبی گدا»

فارسی برخه :-

همتائی خوبی تو یکی هم ز دلبران
در شهر قندهار و به ملك هرات نیست
«شجاع الملك»

بهشت روی زمین شد به عهد او کابل
دهن گشود بی خنده قندهار و انار
«ندیم»

خورسند باد هر که رود سوی قندهار
بیند به چشم خود رخ نیکوی قندهار
دائم دعای خیر کند حافظ هرات
بر قندهار و خلق نیکو خوی قندهار
«حافظ هراتی»

دم عیسی است گویا قندهار و سیر گلزارش
که روح تازه می بخشد نسیم صبح بیدارش
«قندهاری ننگیالی»

نگار قند لب کورا بود در زلف سیصد چین
که او یك بت نبیند کس بچین و قندهار اندر
«هزار و یکشب»

نومیالی پوهان

بناغلی «اجیب»

مرحوم مولانا ابو الکلام آزاد

دلوړو شخصیتو مفاخرو کوم ملك اویاو کوم چانه پوازی عاید نه بلل کیږی او دتولو نړی والو مشترك مال دی یعنی دمنا فعو له نصیبی څخه ئې کرده مستفید کیدلای شی ، دادیسن، نیو تن، لایلاس، ژان ژاك روسو، شکسپیر، سید جمال الدین اویا نورو نوابغو او مختر عینو د علمی تتبعا تو او اختراعاتو له نتیجی څخه نه پوازی خپل هیوادونه گټمن شویدی بلکه دمنفعت په اثر ئې موږ او ناسی تول بنادمن شوی یو ، نو مولانا ابوالکلام آزاد چه یه علمی تجربو او سیاسی ستر توب گویو وتلی شخصیت ؤ بوله هنو کسانو څخه دی چه له بوی خوا څخه داستعمار او استثمار پیره دژوند تر پایه پوری وجنگیدی او دشرق دوحدت په لار کښی ئې ډیری چغی ؤ بغی ووهلی له بلی خوا څخه ئې دتحریر او تقریر له لاری وعلمی مجامعو او دعلم و ادب ومیناتو ته ښه اثرونه او موثري خطابی دیاد گار په توگه پریښولی چه ترابدالابده پوری به دده محترم نوم ژوندی وساتی.

مولانا ابو الکلام

مولانا دسیاست په میدان کی دعدم تشدد دروبی دلاری څخه د تولو نړی والو توجه وځانته جلبه کړی وه د کومی سیاسی مسئلی دحل داثبات په وخت کښی ئې له مدللو دلائلو او سړي سینې څخه کار اخیستی یعنی تشدد او یادیر تلوار کول ئې په کوم کار کی ناکامی اوله مصلحته څخه

لیری کار باله ، دقوی منطق اوسیاسی پوهی له امله ئې د کانګرس دلیډر توب اوریاست په وخت کی ئی چا نظر یه ور ردولای نشوای .

دهند جمعیت العلماء اویا نورولیډرانو دده دقوی خطابی اورساقلم په وجه د کانګرس له طرفه څخه رسماً وده ته د ابوالکلام لقب ور کړی ؤ ، مهاتما ګاندی به دی د هند دماغ او نهرو به ئې دهند زړه باله اودائماً به ئی ویله چه د مولانا په علمیت او اخلاقی متانت می غبطه کیږی ، جواهر لال نهرو دخپلو پلانو پیشرفت دده ددماغی افکار ومحصول باله اوپردې باندی مقرؤ چه دی په علمیت اوسیاسی پوهه کی به کرده هند کی ساری نه لری کوپالاچاری به ددیوتا او سردار پټیل به دهند دلمر په لقب سره یاداوه اودائماً به ئی سره ویله چه مولانا هغه مواج بحر دی چه په زحمت اوراحت کی یوډول تمکین لری . (مونټ بیټن) بیا یوه ورځ په یوه علمی ټولنه کی دده حیثیت په دې الفاظو سره وښودی چه دمولانا ابوالکلام آزاد علمی منزلت خوو تاسی ته ترماښه معلوم دی مګر په سیاست کی یوه داسی جذابه اومرموزه قوه پکښی موجوده ده چه دعدم تشدد په پسته حربه سره هر ډول قوی غلیم مغلوبولای سی .

مولانا په عصری اوقدیمو علومو کی یو شانته معلومات درلودی دبند او خلاصیت په حال کی به په علمی تتبع بوخت ؤ یو مبسوط تفسیر ئې دتفسیر القرآن په نامه سره دمالټا په بندیخانه کی او نور ګټور آثار ئې د هند په مختلفو بندیخانو کی لیکلی دی چه دمضامینو دلوړ توب په لحاظ دقدر وړ دی .

دمولانا زیږیدنه او تحصیل :-

په ۱۸۸۹ ع کال په مکه معظمه کی زو کړی او کوچنیوالی ئې په عربستان کی تیره کړی وه ، تعلیمات ئې په خصوصی ډول پوره او تقریباً (۱٤) کلنی ؤ چه عربی شرقی او دینی تحصیلات ئې تکمیل کړه نو عراق ، مصر ، شام ، ترکیې او فرانسی ته ولاړ او دخصوصی مطالعی دلاری ئې دارو پا ئې ژبو او ادبیاتو متعلق علم لاس ته راؤست .

دمولانا سیاسی فعالیتونه اودژوند نور مراحل :- مولانا د پلار سره وهندوستان ته راغلی دی په ۱۹۱۲ ع کال ئې په کلکته کی د الهلال په نامه دیوې اردو هفته واری مجلی خپرول شروع کړه حکومت په ۱۹۱٤ ع کال ددې مجلی خپرول منع کړه اومولانا ئې په (دنچی) نومی ښار کی نظر بند کړ . تر خلاصیدو وروسته ئې په ۱۹۲۰ کال کی دخلافت اوعدم تعاون په تحریک کی برخه واخیسته په نتیجه کی په (۲) کاله بند محکوم شو .

د ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹۳۲ کال پوری دملکی نافرمانۍ په تحریکاتو کی ئې ډیر فعالیتونه وکړه او په نتیجه کی ئې بندی کړی ولیدلې په ۱۹٤۲ کال داګست په میاشت کی ئې د (هندایله کی) په تحریک کی چه برخه اخیستی وه هم بندی

شو او د ۱۹۴۵ کال نرجون پوری بندی ؤ.

مولانا آزاد د ۱۹۲۳ کال او ۱۹۳۰ کال د کانګرس په خاصو اجلاسونو کی چه په ډیلی کی به کیدل د رئیس حیثیت درلود په ۱۹۴۰ کال کی بیا رئیس سو تر ۱۹۴۶ کال پوری رئیس ؤ.

په ۱۹۴۲ کال ئې د کانګرس پارټی د (کرسپس میشن) په مجالسو کی د سر نطاق وظیفه هم اجرا کول.

د ۱۹۴۷ کال په جنوری کی مولانا په موقتی حکومت کی داخل شو او د معارفو او فنونو د نماینده په حیث د ښاغلی آصف علی پرځای چه هغه واشنګټن ته په لوی سفارت ولاړ وټاکل شو په همدغه کال مولانا د پوهنی وزیر شو، په ۱۹۵۲ کال د قدرتی ذرائع او سائنسی کشفیاتو د وزارت وظیفه هم ورد غاړی شوه یو کال د مخه یعنی په ۱۹۵۱ کال کی د کانګرس د پارلمانی پارټی مرستیال مقرر شو په ۱۹۵۲ کی پسله عمومی انتخاباتو هم د دغی وظیفی مشر وټاکل شو.

په ۱۹۵۷ کال کی په عمومی انتخاباتو کی د (لوک سبها) د غړی په حیث د ګورګان پنجاب څخه انتخاب شو، په ۱۹۵۸ کی د هندو افغان د دوستی د ټولنی د ریاست عهده هم ور وسپارله شوه د همدغه کال د فېروری په ۲۲ دی نامتو شخصیت له دنیا څخه سترګی بټی کړی.

د سقراط وصیتونه

سقراط د مرګ پر وخت خپلو شاګردانو ته داسی وصیت وکی: قناعت غوره کی، هواؤ هوس پریږدی د نعمت پر زیاتوالی د الله تعالی شکر پرځای کی په سختی کښی صبر کوی په حادثاتو کی زړونه قوی لری، هر کار خوار و حقیر مه ګڼی، د دوستانو له تربیی څخه مه غافله کیږی، له دوستانو سره تو له محبت په پوه پلامه ښکاره کوی، خپلی ژبی او خولی وساتی خپل عیبونه د خلقو د مخه مه وایاست مرګ داسی دی لکه غشی چه د کمانی څخه ایله سی ژوند دومره قدر دی لکه غشی چه تر نښانه رسیږی څوک چه عفت و پرهیزګاری نلری که هر څو هوښیار او عاقل وی عقل و هوښیاری ئې تر کماله نه ده رسیدلی، د خدای تعالی دوست هغه څوک دی چه فاسد خیالات ئې په زړه کی ورو ګرزی او قبول ئې نه کی د هر چا چه ښه کار ور په زړه شی زر دی عملی کوی ښه د خو یو د حلال کسب څخه د مال حاصلول او له دغه څخه وخوارانو او مسکینانو ته نفقه ورکول دی د غضب د غلبی پر وخت دی ژبه د بد ویلو او لاس د غځولو څخه وساتل شی لویه پاچهی داده چه سړی پر شهواتو غالب سی ښه د عملو درې شیان دی اول دا چه د ښمن دوست کړی دوهم چه بې عقل په تعلیم و تربیه پوه کړی دریم چه فاسقان و فاجران په نصیحت سره اصلاح او نیک عمله کړی، د سقراط څخه چا پوښتنه وکړه چه کم شی ډیر نزدې دی د ورته وویل اجل. بیائې ورته وویل چه کم شی ډیر لیری دی ویل د غوښتنی حصول پوښتنه ځنی وشوه چه له چا سره باید الفت وشی ویل د هوښیار دوراندیش سره. بیائې پوښتنه ځنی وکړه چه کم شی د ډیر تعجب وړ دی؟ ده وویل چه هوښیار چه د ناکامی څخه تاسف کوی.

دپیغلی عزیزه «رشاد» ترجمه

نتاشه

هغه سرلوبی نجلۍ ده چه دخپل وطن دخپلواکۍ دپاره ئې ځان فدا کړ

د جنګ وحشت ناکی چوپتیا دجبهې دلاسی بمانو اومردکو داوریدو زغ مات کړ دمحاصری «کلا بندۍ» کړۍ خوراتنګه شوی وه، اوددښمن عسکر هم ښه ترانزدی شوی وه نتاشه فقط دګران وطن ددفاع په هیله جنګیدله اوآخرنۍ مرمۍ چه یواځی ددې ددفاع وسیله وه، ددښمن دعسکر وخواته ور ویشتلی، اوپه آخرکی ددې روح چه دعزیز وطن دخلاصیدو، اود آزادی دساتنی اوددې دآرزو ګانو وطرف ته ؤ د آسمان وخوا ته والوت.

نتالیه کوف شوواد ۱۹۲۰ کال دنومبر دمیاشتی په شپږ ویشتمه نېټه په یوه نادارهٔ کورنۍ کښی ودنیاته راغلې وه، ددې دکورنۍ ټول افراد انقلابی او کمونسټ وه، نتالیه، چه د نتاشی په نامه یادیدله، پلار ئې ددې په کوچنی والی کی لاددنیا څخه سترګی پټی کړیوی دوه وروڼه او یوه مور ئې هم د انقلاب دضد په جنګ کښی مړه شوی وه، او یوه خاله ئې هم ددښمن په لاس کی بندی وه په حقیقت کی نتاشه، په یوه داسی کورنۍ کښی وه چه ددغی کورنۍ ټول افراد قهرمانان ؤ او تر کوچنې ولوی پوری ټوله دخپل وطن او خپلی خاوی دساتنی په فکر کی وو.

نتاشه یوه آرامه نجلۍ وه چه دانا اودمور سره ئې، په یوه کوچنۍ کورنۍ کی ژوند کاوه مور به ئې تل دغه ویل، چه دوطن پرستانو لمړی وظیفه دمملکت او خاوری ساتنه، اومبارزه ده د هغو دښمنانو سره چه ددوی پرخاوره تیری کوی، اوزموږ دوهمه وظیفه زموږ داولادو صحیح روزنه اودوی نه تعلیم ورګول دی چه دخپل وطن اومقدسی خاوری دآینده ژوند دپاره خاطرجمع اوآرام واوسو، اودا به ئې ویل چه موږ ټوله دغه جهان څخه تلونکی یو، باید دخپل مملکت دپاره امین اوصادق خلګ وروزل شی اوفقط دغه هیله لرم چه زما دغه یوه لور «نتاشه» وخپلی خاوری ته دیوه حقیقی وطن پرست په ډول د خلګو د سعادت او آزادۍ دپاره مبارزه وکی.

زه دانه غواړم چه زمالور نتاشه تجمل پرستنه « دنیایت شوقی » ، او د مسترح ژوند غوښتونکی وی ، د نتاشی د مور دغو خبرو به نتاشی کښی هم تاثیر کاوه ، اودغه دمور ویل ئی ددې دژوندون د لمو لار « خط سیر » وروتا کله .

نتاشې د کوچنیوالی څخه په خپل ځان کی دعسکری ژوند سره ترانـدازی دیره علاقه او محبت په خپل ځان کی احساس کاوه اودعسکری مسلک ئې خوړا زیات خوش ؤ اوددغی هیلی د سر ته رسیدو دپاره به ئې تل زیار کیښ اوځان به ئې ورته چمتو کاوه له دې سببه چه نجونی پـه عسکریت کښی شـاملیدلای نه شوای دادیره زهیره وه لیکن په آخر کی دا اعلان وشو چه نجونی هم په عسکری کښی شاملیدلای او منل کیږی .

دې هم دعمر پر ۱۴ او ۱۵ کال د نظامی تعلیماتو پـه زدکړه شروع وکړه او کال پـه کال ئې معلومات او لیاقت پراخیدی خپل دوستان به ئی تل د عسکری ومقدس مسلک ته تشویق قول دادیـوه عجیب قدرت او توان خاوندوه او به هغه مسئولیت کی چه نسبت وخپل وطن ته ئی درلود په نظامی مسلک کښی ئې ښکاره کړ .

مورئې لیکلی دی : کوم وخت چه المانیان ددوی پر گران اومحبوب وطن نیری وکړ نتاشه د هوانوردی پـه پوهنځی کښی خپله وروستنی آزموینه ټپروله اوپـه نظر کښی ئې درلوده چه بیلوټ انـجینره شی مگر دغې فاکولتی څخه د اوطلبی به ډول د « ستاپر » و نظامی ښو وځی ته ئې خپل ځان شامل کړ اودجنگ دجبهی وخوا ته ولاړه هلـته ترلس میاشتی محاربې ورو سته د ۱۹۴۲ کال د اگست پر ۱۴ نیټه پـه یوه سخته محاربه کی چه المانیانو د نتاشی مربوطه قطعه محاصره « کلابند » کړی وه او جنگ د لاسی بمبانو پـه ذریعه ددواړو خواؤ په منځ کښی شروع وو نتاشی خپل ددوستانو د یو غرسره چه « ماشه پالی وانفوا » نومیده دمملکت د آزادی او د ملت دسعادت اودخاوری ددفاع به مقابل کښی ووژل شوه ددې ترمرگ وروسته ددې په یاد او یادگار چه دوطن پـه لار کی ئې سرور کړی ؤ مجسمی ئې جوړی شوی اودغه دواړو نـفرو د شوروی د ملـت د قهرمانانو په عنوان د وطن د آزادی د جنگیدو پالار کی نومونه ځانته حاصل کړه .

آخیرنی خبری چه نتاشې وخپلی مورته لیکلی وی .

دا وی :- ای آزادی ! زه ستازغ اورم پر ما ورحمیږه ځکه چه یدغه گړی کی ترنورو ډیرزه ستاپر موجودیت ایمان لرم او پر دغه عقیده جنگ کوم او پر تا ای پـه یم دښمن کولای نشی چه پـه دسیسو زموږ دخاوری تصرف وکړی ولی چه هر سړی پوا ځی حق ای چه پخپل کور کی ژوندون وپایته ورسوی او دا موقع وچانه ورنکړی چه د بل چا گام ددوی پـه یا که خاوره او ددوی پـه وطن کښی کښیښودل شی .

د گوډ تیمور د تاریخ څخه چه په نیویارك کی چاپ شویدی

د ښاغلی انوارالدین «انوار» ترجمه

د گوډ تیمور انتقام اخیستل

دامیر تیمور داعادت ؤ چه دجګړی ډګرته ئې خپل حرم سرای هم ورسره نقلاوه، ده باویل چه دجګړی ډګرته د ښځو بیول دنارینه ؤ دزړه ور توب باعث ګرزی.

یوه ددغو مشهورو جګړو څخه چه امیر تیمور کړیده د «انقرې» جګړه ده، کله چه تیمور ایران، عراق، ترکستان او افغانستان و نیول دیوه لوی خلافت جوړیدو په فکر کی شو او غوښتل ئې چه د ټولو اسلامی ممالکو ستروا کمن وبلل سی نو هغه څوك چه ددې کار مانع ګرزیدی هغه سلطان بایزید ایلدرم د عثمانیا نو خلیفه ؤ.

سلطان بایزید په لږ وخت کی کوچنې اسیانیولې او د بالکان د نیولو په قصد رهی او د بالکان لوی هیوا دونه ئې هم تصرف کړه، د شرقی روم دامپراطور څخه چه په قسطنطنیه کی ئې حکومت کاوه باج او خراج واخیست او پدی تیرخ کی ئې دا هم پر کښېښوول چه مسلمانان دی په قسطنطنیه کی مسجد جوړ کړی او سلطان بایزید ته به د روم د امپراطور له خوا هغه تاکلی کالنۍ وجه نادیه کیږی.

سلطان بایزید یو مفصل حرام سرای درلود چه د هر ملت او هر نژاد څخه ئې ښځی ورته راوستلی وې. که به چاغو ښته چه دده په وړاندی او دده په دربار کی مقرب و ګرزی نو به ئې د ښکلی پېغلی په ور کړه یا د یوې ښایستی نجلۍ په اطلاع ور کولو سره چه په پلانی ځای کی ده دا مقام وده ته پلاس ورتی، ددې جملې څخه د بالکان والی «سنان» یولیك وسلطان ته واستاوه او په هغه کی ئې لیکلی وه چه د بلغار پاچا یوه ښایسته خورلری چه (د سپوتینا) نومیږی او د بالکان په ټولو ملکو کی ساری نلری.

سلطان بایزید ددې لیك تر وصول ورو سته سمدستی لښکر سره ټول او د بلغارستان پرخوا ئې حرکت وکړ، د بلغار پاچا ته ئې ولیکل چه: که دی خور په پټه پرده کی راکړه ښه کنه د بلغارستان خاوری به په توبرو کی وچلوم، نو د بلغار پاچا پسله ډیری مشورې او مصلحته ورته ولیکل چه زما خور یدې شرط ستاسی وخدمت ته تیاره ده چه د اسلام د دین له قبولولو څخه ئې معافه کی سلطان د بلغار د پاچا د اخبره

ورسره ومنل نو ئې وخپل حرم سرای ته راوستل او یو خصوصی کشیش ئې ورته مقرر کی داوخت سلطان بایزید د غرور او بری په میو مست او پرهیچائې تن نه ایښا وه دا حالونه امیر تیمور ته هم رسیدل نو د پنځوس زرو سپرو لښکرو سره د سمرقند څخه مخ پر (انقره) رارهی شو، پدې سفر کی دده هغه ګرانه میرمن چه د ایلخانی مغول لور او د چنګیز خان د لمسیانو څخه وه هم ورسره وه دا ښځه پر تیمور دونه ګرانه وه چه دا به هر چیری تله پنځه زره ښځی به ئې همرکابه وی او دا به په تخت روان کی سپره وه، دا ښځه میرمن سارای نومیده او د تیمور پدې سفر کی په ډیر جلالت او عظمت سره تر (حلب) پوری راورسیدل.

تیمور د (حلب) څخه یو لیک د سلطان بایزید په نامه ولیکی او په هغه کی ئې ځنی غوښتی وه چه که ته زمانوم په خطبه کی یاد کی او خپل ځان زما تحت الحمایه وبولی نو زه بیله دې چه کم ضرر درورسوم یا الجه در څخه واخلم پر هغه خوا چه راغلې یم بیرته به ځم

یوه هفته وروسته پدا سی حال کی چه تیمور د خپلو سردارانو سره خپل لښکریان معاینه کول قاصد دده د لیک جواب راوړ (شرف الدین) د تیموری در باریو پوه سړی ؤ په فارسی، ترکی او عربی ژبو ښه پوهیدی. دغه لیک ئې د پاچا په وړاندی وایه او تیمور هم ښه غوږ ورته نیولی ؤ کله چه د لیک ویل یو ځای ته ورسیدی تیمور نا ببره پر حمله کړه او د شرف الدین څخه ئې لیک واخیست تو کر تو کر ئې کی او د سلطان بایزید قاصد ئې هم چه د لیک سره راغلی ؤ یوه سخته چاپېره وواهه، تو له حاضرین ددې پېښی څخه متاثر سوه او پوه سول چه سلطان بایزید وامیر تیمور ته څه لیکلی دی؟ پدغه شپه چه امیر تیمور خپل ځای ته راغی که ګوری چه «میرمن سارای» دده ګرانی ښځی تور کالی اغوستی دی او ډیره غمجنه ښکاره کیده تیمور ددی کار علت ځنی وپوښتی میرمن سارای ورته وویل چه بایزید ماته د خپلی مینځی خطاب کړیدی او غواړی چه ما مینځه کړی نو تر څو چه ته ددې خبری انتقام وانه خلی یا پدغه کالو کی سلطان بایزید ته د مینځی په توګه ورنه سم اراده نه لرم چه دا کالی الیش کړم.

امیر تیمور پدغه شپه ډوډۍ ونه خوړه او امر ئې وکی چه لویه نغاره یعنی د جګړی نغاره دی وو هل سی، لښکریان چمتو سول او دا قرې پر خوائې یرغل وکړ دا جګړه چه په تاریخ کی د نړۍ ډیره غټه جګړه یا دیږی د ګوډ تیمور په ګټه او د سلطان بایزید یلدرم په ماتې بشپړه سوه، سلطان بایزید، دده زامن او حرام سرای ئې د امیر تیمور د لښکریانو په لاس کی بندی سول په حرام سرای کی (د سپوتینا) د بایزید ښکلی محبوبه هم د تیمور په لاس کښیوته.

په دا بله شپه تیمور امر وکی چه په سو ؤ مشعلان اوڅراغان دی ولګول شي سازندګان دی راتول اوښکلی ساقیان دی دامیر په جشن کی برخه واخلی داهغه شپه ده چه امیر تیمور د سلطان بایزید پر طلائي تخت کښېنوست په زرو سردارانو اوغټانو پدي جشن کی حضو درلود امیر تیمور امرو کړی ؤ چه پدی شپه باید رسمي مراسم یا رسمی قیودنه وی اوهرڅوك دی ازادانه هرڅه وکی او ځان دی خو شاله کی کله چه دتیمور دامحفل خورانود ؤ نو ویوه مخصوص سړی ته ئي امرو کی چه د بایزید څخه ځنځیران ایسته کی اوپه پوره تعظیم ئي دلته راولیء نو کله چه بایزید مجلس ته را وستل سو امیر تیمور په احترام ورته ولاړ سو اوپر خپل اړخ ئي کښېنا وه او په خبرو ور سره بو خت شو پدي وخت کی سلطان بایزید ذ وزیرانو په ذریعه دامیر حضورته د معافی در خواست وړاندی کی دامیر د خوا څخه هم ومنل شو . په عین حال کی تیمور وخپل یوه حاضرباش ته په غوږ کی پټ هدایت ور کی اوهغه د مجلس څخه ووت ، لږ کړی وروسته نا څاپه د مجلس رنګ بدل شو اوپه حاضرینو کی یو جلا ښور ماښور پیدا شو اوهرچا غوښته چه دتیمور وتخت ته نژ دي ځای ونیسی ځکه چه (دسپوتینا) د سلطان بایزید ښکلی محبوبه بي حجابه د تیمور وتخت ته ولاړه وه اوپداسی حال کی چه پخپله بایزید هم ناست ؤ دامنظره خلګو ولیدل .

پسله لږ آنه تیمور وسلطان بایزیدته په لوړ آوازوویل چه هغه ته وي چه زما میرمن دی دمینځي په حیث غوښتل اوس د هغه په انتقام کی دادی ستا محبوبه بیله حجابه زما او زما د سردارانو په حضور کی ولاړه ده .

سلطان بایزید ددی خبری تراوریدو اوددي منظری تر لیدو وروسته لړز واخیست او بي هو ښه پرېووت څه کړی وروسته ئي د ډیر غم اوخواشینی په اثر ددنیا څخه سترګی پټی کړی .

تیمور داښځه ویوه له سردارانو ته وبخښل او دا حال ئي وخپلی « میرمن سارای » ته ووا په هغی کالی الیش کړه او په دی انتقام ئي زړه ښه سو .

تاریخي :

دیناغلی عبدالباری «آشنا» رالیږنه

لښکر گاه

لښکر گاه چه دبست په بغل کی واقع ده د (۳۹۴ — ۳۹۰) هجری قمری کال په حدودو کی لومړی پلا د سلطان محمود غزنوی په امر او اراده سره آباده سوه چه وروسته ئی زوی (مسعود) دلښکر گاه ابادی ډیری کړی او بیا ددوی اولادې دلښکر گاه دښو ماڼیو او مجللو ابادیو څخه کار واخیست .

لښکر گاه دغزنی ترخرابی وروسته دغوری علاوالدین دقهر او غضب په اوروسوه نوځکه بیا ترمیم سوه ، بیا وسوځله سوه بیا ونیوله سوه تر څو چه چنگیزی مغولانو دمځکی سره یو شی کړه ، او گوډ تیمور دانم هجری قرن په اواخرو کی دلښکر گاه دولو او بندو په ویجاړه ولو سره نه یوازی دبست او لښکر گاه ژوند ته خاتمه ور کړه بلکه په هغه سیمه کی ئی دعمومی ژوند کمبله تړله کړه خونن ورځ بیا هلته ددې ملك دآبادی په غټو نخشو لاس پوری سوی دی او ورځ به ورځ پر مخ ځی .

دلښکر گاه لنډه تاریخچه :- هغه وخت چه امیر سبکتگین دسلطان محمود غزنوي پلار په سنه ۳۶۶ هجری قمری کی په غزنی کی پر تخت کښېنوست نو ئی وغوښتله چه دخپل حکومت دائره ارته کی لومړی ئی دافغانستان شمالي ولایت خراسان او زمینداور په خپل تصرف کی راوستل ، پدغه وخت کی بست او د هلمند منځنی سیمه ددو محلی حاکمانو په لاس کی وه او هر یوه غوښتل چه ددغې سیمی امارت دهغه بل څخه لاس ته کی ، دبست دښار حاکم (طغان) نومیدی او دده دمخالف نوم (بای توز) ؤ بای توز غوښتل چه د طغان څخه ددغی ذکر سوی سیمی حکومت ونیسی نوورته پورته سو ، طغان دخپل حریف تاب نه درلودی نوځکه مخ پر غزنی رهی سو او دسبکتگین څخه ئی کومك وغوښتی ، سبکتگین په څو شرطو سره د طغان پر خوا او مخ پر بست رارهی شو او بای توز ته ئی ماته ور کړه او طغان ئی بیا د بست امیر مقرر کی ځکه چه وروسته طغان دخپلی وعدی څخه مخالفت وکی نو خبره وجنگ ته ورسیدله چه په نتیجه کی طغان او بای توز دواړه دسبکتگین دلاسه وکرمان ته فراره سول او له دغه وخته څخه دهلمند منځنی سیمه او دبست ښار چه آباد

او مشهوره ښار ؤ د سبکتګین
د حکومت تابع شوه پدی وخت
کی د کښته هلمند سیمی چه
سیستان یا سجستان بلل کېدی
او مرکز ئې زرنج ؤ د محلی
امیرانو له خوا اداره کېدی
دا امیران د صفاریانو د بقایا ؤ
څخه وه او د سامانیانو د نفوذ
په وخت کی د هغو تابع وه
مګر کوم وخت چه غزنوی
دولت قوت پیدا کی او
سامانیان ضعیف سوه نو د غو
امیرانو د خپل استقلال دعوه
وکړه او هغه وخت چه سبکتګین
په غزنی کی د غزنوی کورنۍ
اساس کښېښودی او ترماورای
آمو او هلمند پوری ئې د خپل
نفوذ دائره ارته کړه نو پدغه
وخت کی د صفاریانو د پاته
امیرانو څخه ابواحمد خلف
ابن احمد په سیستان کی
حکومت درلودی کم وخت
چه سبکتګین د بست تر نیولو
وروسته د هند په فتوحاتو
مشغول ؤ نو خلف نامی له موقع
څخه استفاده وکړه او پر بست
ئې حمله وکړه مګر پسله
هغه چه سبکتګین له هنده
راوګرزیدی نه یوازی ئې د بست
ښار ځنی و نیوی بلکه مالیات
ئې هم ځنی واخیستل او وروسته
ئې خلف و باخښه د سبکتګین
د مړینو په وخت کی (خلف)
بیا د سرکښی خیال پیدا کی د
ځینی ځایو لکه پوشنج، او
قهستان په نیولو پسی سو پدې
وخت کی سبکتګین مړ سو او
زوی ئې سلطان محمود پر تخت
کښېنوست .

سلطان محمود په ۳۹۰
هجری کال کی د یوه لوی لښکره
سره بست ته راغی او پر سیستان
ئې حمله وکړه او خلف ئې
کلابند کی خو بیا ئې و بخښی
پدغه ډول څو واره نور هم
خلف سرکښی وکړه او سلطان
محمود به بیا و بخښی څو آخر
ئی ګردیز ته واستوی او هلته
مړ سو، کښته هلمند یا سیستان
چه هم د سلطان محمود په وخت
کی د غزنوی دربار تابع شو نو
ددې دپاره چه سیستان وساتل
شی سلطان محمود د یوی لښکری
چونۍ د آباد ولو په فکر کی
سو هغه ؤ چه د سیستان په مخ
کی ئې د بست څخه یو فرسخ
لیری د هلمند پر غاړه لښکرګاه
آباده کړه .

د سلطان محمود ترمرګ
وروسته بیا سلطان مسعود په
لښکرګاه کی ډیری آبادی
وکړی او ښه ئې ارته کړه بلکه
د غزنویانو په ټوله دوره کی
لښکرګاه آباده وه خو هغه
وخت چه غوری کورنۍ عروج
وکی او غزنویانو ته ئې ماته
ورکړه نو علاوالدین جهان
سوز غزنی و نیوی او وې سوځی
بیا ئې د بست وخوا ته مخ کی
او هغه ابادی چه غزنوی پاچهانو
پدغه سیمه کی کړی وې ټوله
ئې خرابی کړی چه پدغه
خرابیو کی لښکرګاه هم
ورانه سوه خو بیا هم ترلس پنځلس
کاله خرابی وروسته د غوریانو
د نورو پاچهانو له خوا ترمیم
او دګذارې وړ وګرزیده .

د لښکرګاه دوهمه خرابی
د مغولو په وخت کی پېښه شوه
چه یوه پلا چنګیزی لښکرو
پایماله کړه او بله پلا ګوډ تیمور
په ۴۹۷ هـ کال د هلمند ټوله
سیمه تر سیستان پوری دا سی
« نور په ۲۷ مخ کښی »

ښاغلی مولانا محمد شریف «حبیبی»

دلیکنی قانون

تو له لیکنی خپل موضوعی قانون لری او هره انشاء په بل عبارت البته یو اختراع او ایجاد باید و بلل شی .

لیکن ډیر د تأسف ځای دی چه ځینی اشخاص چه دوی کلونه کلونه په عالم کی د لیکنی تیر کړی، او ډول ډول مضامین ئې انشاء کړی ، او هر څو نه چه څوك ورته متلفت شی نه د لیکنی خوند اری او نه انشاء ورته ویل کیږی داولی ؟ ځکه چه دوی په خپلو لیکونو کی لحاظ ددې قانون نوی کړی چه لیکنه خو د انسان د فطرت مظهر او د انسان خپله شخصی قریحه او دده ذاتی طبع ده چه فقط دده او دده ذوق او استعداد نمایندګی کوی .

او که له موږ څخه په وخت کی د لیکنی دا باریکی تل هیره وی او موږ لیکوال اغلب په تقلید د بل او په اقتفا د نورو ، او ددې او دهغه په ترکیب د خپلی لیکنی پراینه او تکمیل کوی او یا پر ذی افکار او احساسات سره تولوی ، او یو څه مکرر الفاظ او لغات هلته بیځایه سره کوترمه وی . خیال کوم داسی لیکوال د خپلی لیکنی امتیاز کله باید ولری او کله باید دیوه تکړه او مقتدر لیکونکی په سترګه سړی ورته وګوری . او ژر آله د تمسخر، او خورا وړو کی سړی او ډیر بی اهمیته او ابتدائي هم ورته ویل کیږی ، دا ځکه چه دی د تقلید او اختراع یا ایجاد فرق نشی کولای . هلته چه دی باید فقط خپل فطرت او خپله عاقله او علمیت او رسائي یا قریحه په کار کی واچوی چه سړی دی هم و پیژنی او دده مقدار د علمیت او معلوماتو معلوم کی . هلته وسړی ته دده تقلید، دده پاره نانی اندوخته ورقعه برقعه دوخته . او یا معلومدارة سرقت ادبی یا غیر ضروری اقتفا دده وسړی ته معلومه شی پدغه وخت کی روح د قدردانۍ او دده امتیاز ورك شی . یوازی سړی اړیږی چه و داسی لیکوال ته نش د بسیط او ډیر نابلد په سترګه وګوری او په تیره دالاهم چه څوك نه شی پر تله کولای چه لمړی دی او دده علمی استعداد او لیاقت و پیژنی او بیانو دده انشاء او اختراع یا ایجاد ته نسبت وکی چه دا دده تراوش او روښنائي ده چه دده ماحول ئې ښوولی دی ؟

چیری علی الاکثر که لوی لیکوال که کوچنی دی دلته دغه فطرت ئی خوښ کړی او ودی ته ئی فکر نشته چه لوی باید خپله لوئی وپالی . او کوچنیواله پریږدی چه په کوچنیانو کی پخه شی یعنی تقلید چه د کوچنیانو یوغیر اختیاری او مجبوری عادت دی او ددې اقتدار نلری چه دخپل ځان کمه څیړنه کم تحقیق وکړای شی . نو دغه باعث دی چه د تقلید څخه نشی مستغنی کیدلای او څنډول چه دوی خپل انشائی او اختراعی امتیاز او لیاقت باید څرګند کی چه منحصر دده په ذوق او طبیعت او دده دقلم مولود وبلل شی . په داسی تقلیدی لیکونو کی انشاء او اختراع یا ایجاد یا بل شخصی اوذاتی قریحه او طبع څوك کله باید ومومی ؟

نو دغه سبب دی چه لوی لیکوال که په داسی تقلید لااخته وی داسی لیکوال به لوی لیکوال خیال کوم لانه بلل کیږی او درجه ئی دیوه ابتدائی هلك د مکتب چه دا او هغه سره راټولوي او خپله مدعا په پوره کوی او خپل نوبت په تیروی چه ګوندی په یو قطار کی د لیکنی محسوب او داخل شی ډیرو ستر ولیکوالو خپل علمی مقام او امتیاز پدغه نقص او پدغه علت بایللی دی . او خبر نه یم چه نوم د اختراع او ایجاد ئی نه دی اوریدلی او که ئی بلکل فکر وخپلی غلطی ته نشته په دواړو صورتو کی مسئول اووړ د ډیر اعتراض بلل کیږی چه خپل لوی واله ئی په کوچنیواله بدله کړه او داسی به نه کیږی دهره لویه څخه په دنیا کی دلوئی مظاهر غوښته کیږی او دهره کوچنی څخه د کوچنیانو اثرات او علایم ،

نه یم خبر چه زما په مطلب به هر لیکوال یا هر لوستونکی پوه شوی وی ؟

که چیری مطلب زما لیکونکی وچاته نه شی معلوم څو نه بل تأسف ؟ ..

البته بیرته باید ارجاع وکم ځکه چه ډیر امید شته ولی چه مقلدین په نام لیکنه پسی ګرزی بیا هم ګوندی د یوچا څخه یوڅو کرښی یا یوڅه احساسات او عواطف زده کی .

نو پدغه تقریب غالبه داده چه دا موضوع د ټولو څخه پټه نشی پاته . لیکن که بیا وروسته له دی استعلام څخه یوازی یوڅو کرښی او یوڅو عواطف ژرژر دپاره د کمی مقالی د مقلدینو او لفاظانو دخوا څخه لکه په نورو وختو کی تاکل شوي او دموضوع په روح ئی ځان نکر خبر باید چه سړی بل تأسف وکی او ډیر مأیوس شی او داووائی دځانه سره چه ښه نو که دغوږو څخه کار نشوای اخستلای آخر دعینکو څخه ئی خو باید واخلی .

په یوه مجله کی می یوه مقاله وکتل موضوع ئی اصلاً خورالوړه . او قلم طلبه او لکه پخپله موضوع دغسی قلمفرسائی ئی هم غوښته لیکن دیوه استاد اولوړ لیکونکی له خوا څخه پدې سجع او ذی انسجام او دی وضع او ترکیب سره تبصره او شرح لګه چه لهجه دلیکوال او پخوانی لیکوال نه بلل کیږی بیا بیرته فکر وکم

چه یه داسی لیکونکی فقط
غاړی خلاصوی او خپل زاری
تېروی یا حوصله تشوی
نور نو په نور تناسب پسی نه
گرزی ولی پدی چه هغه مطلب
چه استاد پسی زارهی شوی او
موږ ئې ځنی خبرولو، هغه خو
داسی یو مطلب ؤ چه موږ د
بېدل او مولانا او نورو د بیتو څخه
په دفعاتو کتلی او ویلی دی
او که چیری ئې بیا د هغو
احساساتو او عواطفو چه په حق
کی د هغو ایجاد او ابتکار
بلل کیږی موږ ته بیا په تکرار
سره لاس ته راشی. ومنی چه
یو وار تحصیل د حاصل، او
بیا تکرار شنیع، او بل بی مزه
او بل دونه منزیت او خوندور
هم نه باید و بلل شی. چه هر
لوستونکی په ځیر ځیر ورته
وگوری او یائې بیله یو دوو
کرښو تر پایه ولولی. دا ځکه
چه دوې کرښی داسی مکرر
لیک چه د هغه سیمپلونه د هر چا
تر نظر تیر شو یوی او داسی
تحقیقات چه ثقافت او هنر، په
تیره فلسفه، علم، فن. او نور
پخوا او اوس او مبادی او اخر
او عقاید د تیرو کلو او داوس
په زیاته روښنائي د مبداء او
او سنی روښنائي او له دی څخه
معلومات چه عنایت ربی د چا
سره شوی او د چا سره نه دی شوی
دا ټول پدی اوس عصر کی سړی
خیال کوی چه داسی معلومات
به آیا و هر چا ته نه وی
معلوم؟ لیکن که وخت او
زمان پرتله شی. ممکن داسی
معلومات په هره مخیله او حافظه
کی وجود ولری. او یو نوی
کار نه و بلل شی. په تیره ایجاد
او اختراع یا ابتکار ورته و نه
ویل شی.

زموږ غرض خو دادی چه
په دی اوس عصر کی باید سړی
خپل علم او خپل فکر، او خپل
ذوق او خپل کشف او تحقیق
ښکاره کی لکه د نوری نړی
موجدین او مخترعین چه په هره
شعبه کی د ژوندون گډ، او
خپل مستقل او منحصر عقلونه
او ذهنونه په محصولاتو کی په
ټوله عالم منی. لکه چه په
هر چا ئې خپل هم و منله او القاب
د مخترعینو او موجدینو ئی هم
حاصل کړه او څونه به ښه وای
چه په موږ کی یو سړی هم داسی
وای او داسی مقام ئې درلودای
په موږ کی خو له داسی سړو
څخه یو لانه شو پیدا چه یو حقیقت
دی بیله دستیاری څخه د بل
چا یو ازی په خپل فکر وڅیړی
دا ځکه چه دا فکر چا نه دی
کړی چه هر لیکونکی او هره
لیکنه په برابری کی د سن
او سال ډیر تحول پیدا کوي
په تیره یو وخت داسی باید راشی
چه د غه موږ به د مځکی په چلاو
غاړه نه باسو په هوا کی به د
ځان د پاره ژوند تا کو. او
یا به د غه عادی غذا چه اوس کار
ځنی اخلو، په یو بل شی به
ئې بدلوو داولی؟ سبب دادی
چه د مخه ژوند زوړ و بلل شو.
نو قانون د تجدد هم د غسی قائل
دی چه باید په ټولو شیانو کی
باید تحول پیښ شی. چه هم
تجدد اجرا شی. او هم عصری
ایجاب و منل شی.

هر څونه چه می کتلی او
گرزیدلی یم داسی یو مضمون
چه هغه زه مستقل فکر د یو
سړی و بولم او دی او دده
استعداد او لیاقت په وپیژنم

تر اوسه خولاس ته لانه دی راغلی آینده هم هیڅ اطمینان نلرم چه پدې خبره به زموږ خلک پوه شی او که یه ؟

دا ضرورت زموږ عصری ضرورت ، او تر دی مسئولیت لاندی یو او یوازی زړی خبری او زاړه بیانونه څیړل او منځ ته را اچول نو کله موږ په مرور کی د ټوله عمر ادا نه کړه او بیله دغی رویې او دغه مسلکه یو بل تحول په هره خوا کی چه دی زموږ دماغو ته ولی نه معلومیږی چه نړۍ څه کوی او کم رجال ئې وروزل او موږ څنګه ځانونه وروزل چه یو څو ورقی دی مخ او استر کو او کال په کال نوی مخ په اغوندو . او په منځ کی ئې زړه ګدله . او درخانه بوریا وازبورن جامه ریا داریم ، دا به تر کمه ادامه ولری دا ډول خلک او دا ډول زاړه ماغزه چه یوازی په تحصیل د حاصل ، او یوازی په مکرراتو اموخته شوی دی او نوری مطلوبه پردی نه وینی ؟

داهم یاره غټه نقیصه ده ، او قابل د تردید او د قضائی ده چه څو عصره وروسته باید موږ د هر ډول عقلی او فکری محصولاتو څخه یوازی په نام د مقلد ، او تش نور ثابت شو . او لاسونه مو د هر ډول هنر او ثقافت څخه خالی پاته و بلل شی .

که دغه رویه و موږ ته باقی پاته شی . قوی احتمال شته چه یو وخت به موږ ووینو چه موږ یو کار هم نه دی کړی او هیڅ تحصیل دا ځکه چه په چم ئې نه ؤ پوه هغه وخت نو بیا علاج ډیر ګران او متعسر بلل کیږی

او که موږ هم دعوه د د اختراع او موجد یا مبتکر په خیال کی ولرو ، دا دعوه مو خیال است و محال است او جنون ښائی و بلل شی . ځکه څه رنګه چه موږ تر اوسه لا پدې نه یو پوهیدلی چه د انسان خپل ذاتی جوهر څه دی او څنګه پکار واچول شی ګیله باید څوک ونکی که ترا بده زموږ لیکنی مطلق تقلید ، او مکررات و بلل شی و دی بلل شی . متحسس خوشکر موږ نه یو چه دا عیب د لیکنی خپل څخه پورته کو او لاسونه او عقلونه یو څه اوږده او پراخ کو ، او نوری پر دی چه د انسانانو شخصی او ذاتی اقتدار او جوهر یا انرژی کولای شی چه هلته مستقلاً سیرو کی او د خپل فکره څخه داسی کار وا خلی ، چه نور انسانان په ډیر تعجب را دعوت کی چه دوی داسی فکری اختراع او عقلی ایجاد هیڅ نه لیدلی وی او نی کتلی .

او که څوک یوازی زوړ نویس ، زوړ مغز او غیر متحسس او د عصر دود نه وی ورته معلوم . آیا زیار او دا ډول بیفیائده او حاصله تتبع او مښود کرده یو بار د مغزو د هر چا نه بلل کیږی ؟ او که دغه ډول سړی هم واوسیږی آیا موږ به هم په یو قطار کی محسوب شو ؟

هره لیکنه او هره تبصره او هر مضمون که علمی او غیر علمی که د عالم یا غیر عالم د خوا څخه دی ، خالی د استقلاله او تفکر څخه ، او ژر وسړی ته معلومیږی چه دا خو یوازی د ده مطالعات دی او دغه مطالعات د ده اجرا ویلای شی . دی پخپله

یو موجد فکر، او مخترع تخیل نلری، چه اولاً دې د فلسفی د لاری څخه په موضوعاتو کی گام کښیږی بیا دی د علم په قانون یو څه د خپله ذاتی جوهره څخه راوباسی، او بیا ذی وداسی حدته د انتاج ورسیږی چه فن ځنی معلوم شی.

او څه ډول چه زموږ په ټولو خواوو کی د ژوندیوازی تقلید او زاړه افکار او بیهوده فضول یا لایعنی او خارج له ضرورته مضامین ولیدل شی. څونه سړی اړیږی چه ووائی. موږ نو لکه چه یو گام لاهم په وړاندی نه دی اخستی او څونه کښته پاته یو.

اکثر وخت انتظار کوم چه ممکن داسی لیکنه او داسی عقول او عواطف استقبال کم چه ډیر نوی، او چا نوی او ویدلی او څه ډول چه .... لا تر اوسه په دا ډول عقل او داسی لیکونو اخته دی خیال کوم چه د چارسو عریضه نویس خوار به څه لیکی دا چه د لوړ دا حال شی نو ځوړ خو ځوړ دی او گیله هم نه ځینی کیږی.

ارمان چه زه له.. بالمشافهه وای نو به ډیر ښه وای نو به می ارمان په زړه کی نوای پاته چه یادی ما قانع کړیوای یا ده زه پوه کړیوای. چه ورو سته مو د وو پوه کړیوای؛ چه یا مرا با خود ببر یا تو هم با ما بیا! .....

زما په عقیده، سید جمال الدین پداسی بارو کی خپل وجدانی غاړی خلاصی کړی، او چغاری ئې وهلی دی. او ټوله نابغه او سترو حکماو دا ډول پردی د جهل او خرافت د مخه څخه پورته کړی دی حتی مبتکرو شعراو تل په یو د ؤ مصرعو کی دغه مضمون ټوله ځای کړیدی

نو که نور لاهم دغه زړه شرح کشافه لا پسی او زده شی څونه وخت ضایع کوی او څو نه سړی باید ترشا ثابت سی دا عصر د داسی لیکونو نه دی دا عصر د موجدینو او مخترعینو او د منحصر په فرد مولفینو او مصنفینو دې سړی باید زړې وهی داسی راپورته نکی چه څوك حیران شی چه کم عصر یادوی او بیا ښه دی بیان دی شی لیکن

چه داوس د پاره وسیله د نجات وبلله شی، یا داوس د پاره توسعه د معلوماتو په وشی یا داوس د پاره ذریعه د دی عصر د ایجاباتو وشمیرل شی. یا یوه اختراع او ایجاد پوری اړه او تماس ولری، یا داوسنی عصر مشکلات په حل شی، یا د پردو د اقناع د پاره کافی دلائل که عقلی که نقلی وی وبلل شی، او که نه دا او نه هغه پر موقوف وی نو داسی لیکنی خو یوازی واری تیرول او یوازی تقریر، او زړه تشاول دی.

لکه دا چه یو غراره وی چه هر ډول تشه شوه پروا نشته تشه دی سی.

دا به لږ او ډیرو لیکوالو ته جوته شو یوی چه سړی قلم را واخلی او وغواړی چه یو مبسوط لیك وکی، څو نه زور غواړی او کم وسایل پکار یږی چه د ده مدعا ښه ادا کی او څو نه لوړه علمی سرمایه غواړی چه معقولیت خپل د لیکنی ښه څرگند کړای شی او که نه داوی نه هغه نو داسی لیکنی خو تر موږ د مخه هغه سید په

ستړی شوی بیدل پکښې ویلی شوی حافظ پکښې سوی، مولانا پکښې څپڅپانۍ شوی او نور حکما او ادبا پکښې ژغیدلی نو که نور لاهم دغه شرحه پسې شرحه شی معلومه ده چه خدای خبر څه شی ځنې جوړ شی، نه به مود مړ ووی نه دژوندو زموږ لیکوالو او ادباو ته صرف یوه یادونه کوم چه آینده خپل نظریات او عواطف ددې عصر وایجاباتو ته ملتفت کی او نه وغواړی چه نړی یو څه کوی او موږ هم هغه انسانان یو لیکن نه خپله لار بیژنو او نه دبل کشکی زموږ اوقات دا ډول تیر شی چه موږ هم دیوه هنر او ثقافت په روی خیرالامم وبلل شو، او خیر کثیر مو وچاته ورسیږی او لکه باقیات الصالحات غوندی پاته شی، چه نور عصرو نه لاتحسین او تقدیر د هغو وکی.

او که زموږ هره کرده او هره لیکنه دونه قیمت ولری چه موږ دژوند سره وداع وکو او نور زموږ د تحقیقاتو او لیکونو څخه انصراف قبول کی. آیا دغسی نه ده؟

دی عصر ته بیدل او مولانا او سعدی او نور لایو ډول زاړه بلل کیږی نو زموږ لیکنه به کمه خونه روښانه کی او کم گمراه ته به هدایت ورکی،

دا ځکه چه دا عصر فقط دایجاد او اختراع عصر دی چه سړی د ستی ځنی مستفید او متمتع شی او ځنی وخوری او ځنی واغوندی او په توسط ئی برلاری رهی شی.

اوس داسی لیکنی او داډول واهیات او داسی زاړه بابونه نه دی باب ماغزه یعنی عمومی ماغزه زموږ دوگړو پداسی مشکل ترا شیو نه شی مشغولیدلای.

اوس هر شی بالفعل او نقد، باید وی چه علی الحسابه دشپی او ورځی چلاو دپاره کفایت ولری او که پداسی افکار وڅوك بخت شی ممکن ایجاد او اختراع هیڅ ور په یاد نه شی چه څه نه ځنی حاصلیږی.

لیکن که بیرته انصراف وشی او خپلی لیکنی بل ډول واړول شی؛ چه دعصر سمون په وشی او لازمی احتیاجات په رفع شی او پریشانی او اضطراب ته خاتمه ورکړ. څو نه به ددې وخت دمقتضیاتو سره سم یو کار ثابت شی. ځکه چه که بصیرت چاته وی ودی گوری چه موږ ته د ژوند په تولو شعبو کی پدې اوسنی وخت کی کم کم شیان لازم دی او که په هغو پسی نه وگرزو، او گامونه پسی وانخلو، آیا داوس عصر نا کامه او پاته به ونه بلل شو.

که څه هم موږ اوس دونه پاته یوو، چه خپل قهقرائی حال ته وگورو بایدلاس واخلو او هغه ته متوجه شو چه زموږ فرض منصبی بلل کیږی.

به موږ کی اوس هر څوك چه ډیری پیسی لری

هغه ته تو له مراجعه کوی دا لکه
تو له سعادت او بری چه هلته
سزه غونډ شو یوی . که څه هم
موږ ووینو چه هغه د مو هوم
سعادت څښتن ابزوخت بعد یا
فشاری خون شی . یا له د نیا
څخه ډیر نا کامه او بی نام او
نښانه ولاړ شی . او اقلاً د ډیر
سرمستۍ د کبله دونه سرشته
په ژوند کی نوی برابره کړي
چه اعقاب د ده له ده څخه وروسته
هغه د ځان سر مشق و بولی او
ژوند له سر گردانیو څخه په
وساتی نو ژوند او د انسان
ژوند په تیره دیو داسی عصر
لکه دا اوس کله دا ډول ایجابات
دی چه یوازی د ترقۍ لارتړی
او بد بختی بیرته ژوندی کوی .
ومنی چه ډیر خلاف عصری
کارونه په موږ کی باب دی
چه زموږ احساساتو د هغو احساس
لا نه دی کړی او نی حل کولای
شی . دا ځکه چه زاړه رهی یو
دا ځکه چه مکرر یو ، دا ځکه
چه د هره ملحوظ څخه تش یو ،
دا ځکه چه (میش به پای خود
او بز به پای خود) ، او دغه
حیوانی قانون زموږ د انسانیت

(د ۲۰ مخ پاته)

لښکر گاه

خرابه کړه چه بیا چا ژوند
پکښی ونه کی او له هغه وخته
تر اوسه خرابه وه ؛ ځکه تیمور
د بست او زرنج تو له ولي او
بندونه خراب کړه او دهلمند
او بائي له دغو آبادو ښارو څخه
قطع کړي پدغه سبب د انسان
او نبات د گذاری امکان ورك
شو ، شنه باغونه او زر غونې
مځکی وچ دښت و گرزیدې
دوچوبی له جهته د خلگو ژوند
سخت شو زرنج ، بست لښکر
گاه متروك شوه او خلگو کوچ
و کی ، لنډی دا چه د افغانستان
معمور او هغه د خلگو د کی برخی

او ښارونه چه دهلمند پر غاړه
واقع وه د چنگیز او تیمور تر
خرابیو وروسته دا و بودنه رسیدلو
په سبب وران پاته شول څو چه
اوس بیا د متبوعه حکومت په
توجه دهلمند د سیمی او لښکر
گاه په آبادۍ بیا گوتی پوری
شوی دی او امید سته چه بیا
هغه خپل جلال او ابادۍ ته
ورسیږی او د افغانستان دغه
برخه بیا د دی ملك یوه سرسبزه
او حاصل خیزه برخه و گرزی .
د لښکر گاه اوسنی عمارات
چه د پخوانی زړو عماراتو و شمال
ته په ډیر ښکلی او ماډرن
صورت شروع شو یدی اوس
دهلمند د ناوی د انکشاف
مرکز دی .

دپاره استاد او رهبرو بلل شو
اصلاً که څوك و پوښتی چه
مبنا د لیکنی پر څه ده باید
وویل شی چه هره لیکنه
د دو حالتو څخه خالی نه ده یا د
مطالعاتو د مدرکه څخه . او یا
داسی چه پر مخ مستقله او
اختراعی او ایجادی وی او هر
منشی او لیکوال هم دغه دوه

حالته لری . که لیکوال مقتدر
نوی یعنی خپله ملکه او خپل
فکر نه ولری نو خپله لیکنه
د نورو د افکارو د مطالعاتو په
سبب پوره کوی . چه دا صورت
د هر لیکوال ابتدائي او بسیط
حالت ښکاره کوی . او دا
حالت هم تر یو وخته د هر لیکوال
سره باید وی یعنی همیشه

باید دمطالعاتو په حیث لیك ونکی .

دوم حالت د لیکوال په ملکه او اختراع یا ایجاد اړه واری چه ده نه ملکه او خپل اقتدار دخپلی لیکنی په لاس کی وی او هره موضوع یا هر مضمون مطلق دخپله ذوقه او دخپلی قریحی او حوصلی څخه راوباسی . او مطالعات نشی ځنی معلوم . او هر څوك په بوه شی چه دغه لیکوال دا مضمون او نور مضامین یا هره موضوع خاص په ده او دده په ملکه اړه لری ، او بل چا نه نکیه نکوی ، او اقتفائی نه ده نه د بل چا څخه سرقت یا انتخاب

اول ډول لیکوال لا اوم او دو نه دوس څښتن نه بلل کیږی او له خپله حده څخه نور سیر نشی کولای د بل فکر او د بل پر گامو رهی دی .

او دوم د ملکی خاوند . کولای شی چه مستقلا په هره خوا او هره موضوع کی دخپل روزلی عقل او طبیعت څخه کار واخلی او خپله لیکنه داسی څرگنده کی چه هر څرك ومنی چه دا لیکوال او لیکنه دده دمبنی پر بو ایجاد او اختراع ده چه دا حالت د اوسنی عصر لمړی خاصه او ممیزه بلل کیږی .

د نورو نړی ژوند هم په اول کی ډیر ساده او ابتدائی ، او لکه زموږ حالات او وضعیات لیکن په تدریج دونه پر مخ ولاړه چه اوس مخترعین او موجدین دونه پکښی ډیر شوه چه په سلو کی ممکن نه نوی د اختراع قابلیت او قوت ولری دا ځکه چه دوی تر یو وخته د مطالعاتو او مشاهداتو څخه ، ددې او دهغه کار اخستی . وروسته ئی فکر وکی چه ولی خپل ځان ونه روزل شی . چه مستقلاً یو څه ځنی پیدا شی .

موږ هم دغه ډول ملکه او استعداد نه اړیو چه پخپلو مفکورو او عقولو کی ئی وروزو او یوازی قانع نه شو پدې چه یا تقلید وکو ، یا اقتفا یا دبل وسرمشق نه ځیر ځیر وگورو ، یا دبل پر گامو دونه رهی واوسو . چه آخر موږ نه کم حالت نوی ثابت او دبل گامونه را پسی حساب وی . وبس

لایق او پوه انسانان کله پدی راضی کیږی ، هر شی چه له ده څخه او چه دده وی خوښ ئی لری په استثنا د بیکاره وگړو چه هغه نو که ټول عمر په نامشروع تقلید اخته وه اخته به وی . ولی پدې چه ده انرژی خپله دا ډول روزلی ده ، چه لوقوه فعاله ئی تقلید او د بله څخه استفاده ده ، او دا ډول استفاده په حقیقت کی ، په آخر کی دده دبی سرمایگی ذریعه ده . که چیری څوك فکر ولری د تقلید وختو نه ، او حد باید وپیژنی چه کله معقول او کله نا معقول ثابتیږی .

په خاتمه کی نور څه عرض وشی پخپله په هر څه پوهیږی که چیری فکر وکی .

دتیری میاشتی غټ خبرونه

جلالتماب ډاکتر سکارنو

څرنګه چه دمخه پیش بینی شوی وه دمعظم تولواک په بلنه داندونیزیا جمهور رئیس جلالتماب ډاکتر عبدالرحیم سکارنو دخپلو ورسره کسانو سره د پنجشنبی په ورځ د ثور پر ۲۸ نېټه دسهار پر (۹) بجو او (۱۵) دقیقو په افغانستان کی د (۲) ورځو استوګی او میلمستیا په غرض و کابل ته راورسیدی د خواجه رواش بر هوائی ډګرئی دمعظم تولواک له خوا پداسی حال کی هر کلی وشو چه والاحضرت مارشال شاه ولیخان غازی د کابل فاتح، ښاغلی سردار محمد داؤد صدراعظم، دملی شورا رئیس، دصدارت عظمی معاونان، لوی درستیز په کابل کی د اندونیزیا لوی سفیر، ښاغلی دتجارت وزیر، دتشریفاتو عمومی آمر، د کابل والی، د کابل ښاروال او دسلطنتی تشریفاتو رئیس، دشاهانه ذات سره ملګری وو دادوی ورځی دجلالتماب ډاکتر سکارنو دلته ښه په ګرمجوشی هر کلی وشو او دثور پر ۳۰ نېټه داطریش په نیت له افغانستانه رهی شو او یوه ګډه اعلامیه د معظم تولواک او جلالتماب ډاکتر سکارنو له خوا په لاندی ډول خپره سوه

۱- دافغانستان دپاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه دبلنی په اثر داندونیزیا جمهور رئیس جلالتماب ډاکتر احمد سکارنو او دهغه محترمو ملګرو د ۱۹۶۱ کال دمی د میاشتی له ۱۸ نېټی څخه تر ۲۰ نېټی پوری افغانستان ته رسمی مسافرت وکړ او دافغانستان د حکومت او خلکو دصمیمانه هر کلی او دورورولی دتودو احساساتو سره مخامخ شول. ددغه مسافرت په ترڅ کی ددواړو ملکو مشرانو موقع وموندله چه په ډیره دوستانه او صمیمانه فضا کی ددواړو خواؤ پر مربوطو مسئلو او دبین المللی پېښو په باره کی تبادل افکار وکړی.

۲- ددواړو ملکو مشرانو یو پلا بیا دبېطرفو ملکو دمشرانو دتجویز شوی جرګی په نسبت سپانسرشپ ته خپل تیاری څرګند کړ او هغی مقدماتی تولنی ته دخپلو نمایندګانو د لېږلو سره موافقه وکړه چه د ۱۹۶۱ کال دجون په میاشت کی په قاهره کی کیږی.

۳- ددؤ ملکو مشرانو د استعمار او امپرالیزم د هر شکل پر ضد د خپلو مجاهدو د دوام، د ملګرو ملتو د منشور او په باندونګ کی د آسیائي او افریقائي ملکو د جرګی د اساساتو د سرنوشت د تاکلو د حق پوره ملاتړ ته یو ځل بیا خپله اراده څرګنده کړه، د افغانستان پاچا اعلیحضرت د لویدیځ ایریان په باره کی د اندونیزیا د مشروع حق په نسبت د خپل حکومت ملاتړ او د دغی مسئلی د عادلانه او ژر حل په نسبت ئي خپله هیله څرګنده کړه.

٤- پدغه امر په اتفاق سره چه عمومی پیشرفت او انکشاف یوازی د سولی په رڼا کی ممکن دی د دواړو هیوادو مشرانو هیله وکړه چه په نژدی آینده کی په عمومی او پوره خلع سلاح باندی موافقه وشی علاوه پر دی دوی تقاضا وکړه چه مربوط هیوادونه دی د ملتو تر منځ د حسن تفاهم د انکشاف په غرض د اتومی چاودنو د سم دستی قطع کولو سره موافقه وکړی.

٥- د دواړو هیوادو مشرانو د الجزایر د موقتی حکومت او د فرانسی د حکومت تر منځ کنفرانس د انعقاد ښه هر کلی کړی دی او هیله ئي ښکاره کړه چه دغه کنفرانس د الجزایر د بشپړ حاکمیت د حق په تامین منتج شی

٦- د دواړو هیوادو مشرانو د هغه توافق نظر او ورور ګلویو د علایقو سره خپله قدر دانی ښکاره کړه چه د دوی د هیوادو تر منځ موجود دی او افغانستان ته د جلالتماب ډاکتر سکارنو سفر د ښو مناسباتو د ټینګیدو او زیاتیدو د پاره ګټور او موثر ګام و بلل شو.

۷- د اندونیزیا جلالتماب جمهور رئیس د افغانستان پاچا اعلیحضرت ته و اندونیزیا ته د نګ بلنه ورکړه. د افغانستان پاچا اعلیحضرت دغه بلنه په خوښی سره ومنله.

* * * * *

ښاغلی غلام حبیب (نوابی)

د ملی شورا د (۱۱) دوری د رئیس د تاکلو د پاره د ثور پر (۲۵) نېټه د ملی شورا د وکیلانو غونډه وکړه او د لغمان وکیل ډاکټر عبدالظاهر ئي د رایو په اتفاق د دغی دوری د رئیس په حیث وټاکی.

* * * * *

څرنګه چه څه موده پخوا د دولتی مطبعی عالی شورا غونډه کړی او د شبرغان د اعلی حکومت د پاره ئي د یوې مطبعی او نشراتی موسسی تاسیس تصویب کړی ؤ، په هم هغه سیمه کی د اموسسه د ښاغلی غلام حبیب (نوابی) په آمریت تاسیس او یوه جریده ئي د ثور پر (۲۳) نېټه د (ډیوی) په نامه خپره کړه.

ښاغلی محمد خالد (روښان)

د مطبوعاتو د مستقل رئیس په پیشنهاد او د وزیرانو د عالی مجلس په تصویب او د معظم اعلیحضرت په منظوری د اصلاح د ورځپاڼی د مؤسسی آمر او د باختر آژانس د ریاست کفیل ښاغلی محمد خالد روښان د مطبوعاتو د مستقل ریاست د معاون د کفیل په حیث د ښاغلی محمد ارسلان «سلیمی» په عوض کی چه هغه بل کارته په نظر کی دی وټاکل شو .

* * * * *

ښاغلی غلام حیدر (عدالت)

ښاغلی غلام حیدر عدالت د کرهنی د وزارت کفیل چه وقاهری ته د بین المللی زراعتی نندارتون د کتلو د پاره د هغه ملك د کرهنی د وزیر په بلنه مصر ته تللی ؤ د ثور پر دوهمه نېټه پر ۱۲ نیمو بجو بیرته په الوتکه کی کابل راغی ښاغلی د کرهنی وزیر د قاهری ، بیروت او تهران څخه یو شمیر میوه لرونکی بوټی ، تخمونه ، ریښې او ډول ډول گلان د ځان سره راوړی دی .

* * * * *

د چکوسلواکیا د جمهوری دولت د پوهنی وزیر داکتر کاهوډا د ثور پر (۳) د غرمی وروسته پر یوه بجه او (۱۵) د قیقو د یوه هیئت په مشری په الوتکه کې کابل ته راغی او دلته ئې د مملکت د غټو شخصیتو له خوا هر کلی وشو نو موړی پسله څلورو ورځو چه په افغانستان کی ئې د یوه میلمه په حیث تیری کړې بیز ته د خپل هیواد وخوا ته ولاړ .

ښاغلی جان کنیډی

په تیرة میاشت کی یوه مهمه پېښه دامریکا د یوهانو له خوا خارجی فضا ته په توغندی کی د یوه انسان لېږل وو چه بېرته روغ رمټ را کښته کړه شو دا کار د جان کنیډی د جمهوری ریاست په وخت کی وشو زموږ د ځلمی صدر اعظم ښاغلی سردار محمد داؤد له خوا د نوموړی جمهور رئیس په عنوان یو تبریکی تلګرام هم مخابره سو .

* * * *

د ثور په ۲۶ نېټه د جنوبی کوریا د (سیول) په ښار کی یوه نظامی کودتا وسوه او کودتا کونکی پسله یولړ نښتو پردي بریالی سوه چه د ټولو چارو واګی په لاس کی واخلی د کودتا مشر د جنوبی کوریا لوی درستیزدی چه پر ټولو چارو او د هیواد پر حالاتو مسلط سو په یوه اعلامیه کی څرګنده سوه چه د کودتا څخه مطلب د خرابکاریو سره مبارزه ، د هیواد د اقتصادی حالاتو ښه کول ، د کوریا یووالی او د امریکا سره زیاته دوستی ده .

* * * * *

په الجزایر کی څلورو تنو متقاعد جنرالانو د حکومت برخلاف اغتشاش کړی ؤ د الجزیری د ښار ټوله ملکی مامورین ئې بندیان کړی او غ ښار ټوله د عسکرو په لاس کی لوېدلی ؤ د غو کسانو د فرانسی د جمهور رئیس برخلاف نشریات کول ، خو دې کودتا دوام ونکړ او ځینی اغتشاش کونکی فرار یا ونیول شوه او پدې توګه دا کودتا ناکامه کړه شوه .

باختر

والاحضرت مارشال غازی شاولیخان د
کابل فاتح او د آزادۍ دلاری مجاهد

مرحوم شاه محمود خان غازی سپه سالار
د پیوار فاتح

دملتونو دافرادو له خوا په صداقت سره وبالل شی هغه وخت نو دملی استقلال اساسونه هم ټینګیږی او د زمانی
دحوادثو د پېښیدو په وخت کښی دملی آزادۍ پیکر (پیږی) څه صدمه لیدلای نشی د استقلال ساتنه
او پایښت تر ټولو دمخه په اقتصادی او کلتوری پرمخ تګ پوری تړلی دی په نن عصر کښی کوم هیوادونه
چه اقتصادی خپلواکی نه لری دهغو اجتماعی او سیاسی آزادۍ هم مصداق پیدا کولای نشی ځکه تر هغو
چه دیوه ملت دژوندانه سطح لوړه نشی دافرادو د شخصیتونو انکشاف او دځان بېژندنی حس هم نه
حاصلیږی هغه وخت دحریت اصول په ټولنو کښی بشپړ کیدای شی چه اقتصادی عدالت په وجود راشی او
ناپوهی له مځه ورکه شی . ځای دډیر شکر دی چه پښتون ملت ژوندانه دی ستر واساسونو ته ځیر شوی
دی او په همدی لار کښی دڅو کلونو راهیسی خپل کوښښ جاری ساتی موږ په داسی حال کښی چه د
خپل استقلال او ملی آزادۍ دپاره جشنونه نیسو د دنیا سوله او امنیت هم دلویه خدایه غواړو .

ژوندی دی وی زموږ ګران ټولواک د استقلال ساتندوی تل دی وی زموږ خپلواکی

KANDAHAR
MONTHLY MAGAZINE
OFFICE:-
PRESS DEPARTMENT
KANDAHAR, AFGHANISTAN
EDITOR A.M-KARZI
MAY 22, 1961
GOVERNMENTAL PRESS